

# نړیوال خوندیتوب
## حقوقي مرستو ته لاس رسی

**که تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره اپلای کوئ، نو نوي قوانین شته ځکه آیرلینډ د 2026 د جون پر 12مه نېټه باندې د نړیوال خوندیتوب قانون بدل کړ.**

پر دې پوهېدل مهم دي چې ایا تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک سپارلی دی، یعنې د 2026 د جون له 12مې نېټې راهیسې.



1.تاسو د حقوقي سلا مشورې حق لرئ؛


2.دغه راز حق لرئ چې د حقوقي مرستې لپاره اپلای وکړئ.

لخوا چمتو کېږي (Legal Aid Board) دا دواړه د حقوقي مرستې بورډ.

## حقوقي سلا مشوره څه ده؟

حقوقي سلا مشوره تاسو ته ستاسو د غوښتنلیک لپاره د ازموینې پروسیجرونو په اړه عمومي معلومات او لارښوونې درکوي.

دا د معاینې پروسې په جریان کې ستاسو د حقونو او مکلفیتونو په اړه لارښوونه او د نړیوال خوندیتوب لپاره د لیکلي غوښتنلیک بشپړولو لارښوونه هم درکوي.



**حقوقي سلا مشوره حقوقي لارښوونې نه دي.**

Coimisiún na hÉireann um Chearta an Duine agus Comhionannas
Irish Human Rights and Equality Commission

ihrec.ie/your-rights

## که زه حقوقي سپارښتنې غواړم، نو؟

په حقوقي مرسته (Legal Aid) کې حقوقي لارښوونې (Legal Advice) او حقوقي استازیتوب (Legal Representation) هم شامل دی. د حقوقي لارښوونو ترلاسه کولو لپاره کولی شئ د حقوقي مرستې لپاره غوښتنلیک وسپارئ.

تاسو کولی شئ د حقوقي سلا مشورې غوښتنه وکړئ ترڅو د غوښتنلیک په پروسه کې درسره مرسته وکړي، او د مرکې پروسې لپاره چمتووالی کې مو مرسته وکړي.

په حقوقي مرسته کې حقوقي استازیتوب هم شامل دی، که تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره د خپل غوښتنلیک په اړه منفي پرېکړه ترلاسه کړئ او غواړئ چې پر هغه پرېکړه باندې تجدیدنظر وکړئ.

## څنګه د حقوقي مرستې لپاره اپلای وکړم؟

تاسو کولی شئ د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک پروسې په ټولو پړاوونو کې د حقوقي مرستې لپاره غوښتنلیک ورکړئ.

د حقوقي مرستې لپاره د اپلای کولو په موخه لاندې کارونه کولی شئ:

1. د حقوقي مرستې لپاره د حقوقي مرستې بورډ د Citywest د حقوقي سلا مشورې خدمت (Legal Aid Board Citywest Legal Counselling Service) ته غوښتنلیک وسپارئ، چې په Citywest د پذیرایی مرکز (Citywest Reception Centre) کې موقعیت لري چې تاسو پکې د نړیوال خوندیتوب لپاره خپل غوښتنلیک ورکوئ یا
2. د حقوقي مرستې بورډ د نړیوال خوندیتوب د قانون مرکزونو (Legal Aid Board International Protection Law Centres) سره اړیکه ونیسئ.



د حقوقي مرستې بورډ د نړیوال خوندیتوب د قانون مرکزونو د اړیکو جزیاتو پیدا کولو لپاره د حقوقي مرستر بورډ ویبسایټ ته لاړ شئ.